د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۱۰۹ مه ګڼه • پنجشنبه • د لیندۍ ۱۴مه • ۱۳۹۸




۸

# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر په لغمان کې د ۱۸۶ پروژو چارې پیل او ګټې اخیستنې ته وسپارلې




۱۴

## د مالیې او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارتونو ګډ نندارتون



۱۲

## په غور کې د نږدې ۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳۴ پروژې بشپړې شوې

# د بلخ ولایت په دهدادي او خلم ولسواليو کې د ۲ ښوونځيو جوړولو کار پیل شو

۲۱/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سيوري لاندې د بلخ ولايت په دوو ولسواليو دهدادي او خلم کې د دوو ښوونځيو جوړولو کار پيل شو. دا ښوونځي ۸ او ٦ ټولګي، تشنابونه، او د څښاک د اوبو څاګانې لري. ددې ښوونځيو په جوړولو سره به د ۷۰۰ کورنيو نجونو او هلکانو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپيريال رامنځ ته شي.







## په غزني کې د اوبه خوړیو کانال او حوض جوړ شول

۱٦/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له لوري د غزني د جغتو ولسوالۍ په کوشه خدري کلي کې د اوبه خوړیو کانال او ورسره یو حوض جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول. کانال ٤۲۰ متره اوږد دي او د حوض زیرمه یې د ۱۲ په ۱٦ متره مربع په ابعادو کې جوړه شوې ده.

## په کندز کې د کورنیو جګړو له امله پر ۵۵ بې ځایه شویو کورنیو ناخوراکي توکي ووېشل شول

۱٦/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

هغه ۵۵ کورنۍ، چې په کندز کې د کورنیو جګړو له کبله بې ځایه شوي او د کندز ښار په شاوخوا او تلو کلي کې میشتې دي د یاد ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست له لوري پرې ۱٤ ډوله ناخوراکي توکي ووېشل شول، په مرسته شویو توکیو کې کمپلې، ترپالونه، سرپوښ لرونکي پلاستیکي سطلونه، ۷ ډوله د پخلنځي وسایل، د لومړنیو طبي مرستو بستې، د فشار کتلو الې، ترمامیټرونه او ماسکونه شامل وو.





# د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام اجرایوي رییس ښاغلي رحمت الله قریشي د پروګرام د مرکزي زون اړوند هرات ولایت لیدنه وکړه

۱۹ لیندۍ ۱۳۹۸

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام یو لوړ پوړي پلاوي د پروګرام د اجرایوي رییس ښاغلي رحمت الله قریشي په مشرۍ له هرات ولایت د پروګرام د لاسته راوړنو، فعالیتونو او موخو لیدنه وکړه. په دې سفر کې د پروګرام د نورو څانګو مسوولان له رییس سره مله وو. ښاغلي رحمت الله قریشي له خپل پلاوي سره یو ځای د هرات ولایت د ګذرې ولسوالۍ په عصر سرجنګل کلي کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له نویو جوړ شویو سپما ګروپونو سره ولیدل، د ګروپ له غړو سره د پروګرام د موخو او له پروګرام سره د هغوي د یوځای کېدو په اړه یې تفصیلي خبرې وکړلې. بیا یې د هرات ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا په ریاست کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له کارکوو نکو سره تفصیلي ناسته وکړه او له هغوي سره یې په کلیوالي کچه د پروګرام پر وړاندې د شته ستونزو او ننګونو په تړاو بحث وکړ، چې د دفتري او کاري ستونزو په شمول یې د هغوي ځینې وړاندیزونه له ځان سره واخیستل او د یو شمېر ستونزو د حل په موخه یې عملاً اقدام هم وکړ. د یادولو وړ ده، چې یاد پروګرام د هرات ولایت ٤ ولسوالي تر پوښښ لاندې راوستي، چې په ټوله کې ۳٦۰ کلي تر پوښښ لاندې راولي. په دې کلیو کې به ۲۸۷٦ د سپما ګروپونه او ۳٦۰ د پور او سپما کلیوالي اتحادیې جوړوي. د دې ګروپونو د جوړولو موخه د سپما کولو فرهنګ ترویجول، مالي منابعو ته د لاسرسي پوهاوي او په ټوله کې کلیوالي متشبثین هڅول تر څو په اقتصادي او تولیدي کړنو کې خپله ونډه واخلي او په مستقیم او غیر مستقیم ډول بوختیا رامنځته شي.



# جریان ساخت ۱٤٠ متر کانال آبیاری در غزنی

۱۸ قوس ۱۳۹۸

کار ساخت ۱٤٠ متر کانال آبیاری زمین‌های زراعتی قریه خواجه داکه ولسوالی جغتو ولایت غزنی از سوی برنامه ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات جریان دارد.

با تکمیل شدن این پروژه مشکلات مردم محل از ناحیه آبیاری زمین‌های زراعتی شان حل خواهد شد.



# په نورستان کې پر۲ زره کورنیو خوراکي توکي وويشل شول

۱٦/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

په نورستان کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست او د خوراک د نړیوال سازمان له لوري د یاد ولایت په پارون، وایګل او کامدیش ولسوالیو کې پر ۲ زره کورنیو پنځه قلمه خوراکي توکي وويشل شول، چې ٥٠ کیلو غنمي شوي وړه، پنځه لیټره غوړي، پنځه کیلو دال، نیمه کیلو مالګه او د ماشومانو بسکیټ په کې شامل و.



# په بدخشان ولایت کې د ۱.۸ ملیونه افغانیو په ارزښت د یوه محافظوي دیوال د جوړولو کار بشپړ شو

۱۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه محافظوي دیوال د جوړولو کار د بدخشان ولایت د تیشکان ولسوالۍ د مظفري پراختیایي شورا لخوا بشپړ او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وړاندې شو. دغه محافظوي دیوال ۷۲ متره اوږدوالي او د بنسټ سره، نږدې ٥ متره لوړوالي لري چې د پروژې د جوړېدو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته په مجموعي ډول ۱٥٦۹ کاري ورځې رامنځته شوې او ۱۸٥ کورنۍ به ترینه ګټه پورته کړي. د یادونې وړ ده چې دغه محافظوي دیوال د کلیوالیو ٥۰ جریبه کرنیزه ځمکه، د تګ راتګ لارې، پل، کانال او د خلکو د هستوګنې کورونه به له سیلابونو څخه وژغوري.



# په نورستان کې د ۳.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه بشپړه شوه

۱۶/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو، اوبه خور او حفظ الصحې ملي پروګرام له لوري د یونیسیف نړیوالې ادارې په مالي ملاتړ د نورستان ولایت د وایګل ولسوالۍ په همشوزکلي کې د ۳.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یو شبکه جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه، ددې پروژې په ترڅ کې ۲۹۰۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او په بشپړتیا سره یې د همشوز کلي ٤۲۰ کورنیو، ښوونځي او کلینیک د ښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.

# په کندز ولایت کې د څه باندې د ۲.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې جوړولو کار روان دی

۱۶/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۲.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار د کندز ولایت د مرکز اړوند د حمید باي کلي د پراختیایي شورا له خوا روان دی. د ښاک د پاکو اوبو دغه شبکه چې ۲۵٦۰ متره اوږدوالی، د ۲۰ مکعبه متره اوبو یوه زېرمه، ۲۱ نلکې او د ۷۰ مترو په ژوروالي یوه څاه لرونکې ده د جوړولو کارې تر ۹۰ سلنه پر مخ تللي دي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې د جوړلو په بهیر کې به ماهرو اوغیرو ماهرو کاریګروته ۱٦۳۵ کاري ورځې رامنځته شي اوتر بشپړیدو وروسته به د کلي ٦۰٤ کورنې د ښاک پاکو اوبوته لاسرسی پیدا کړي.






# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر په لغمان کې د ۱۸٦ پروژو چارې پیل او گټې اخیستنې ته وسپارلې

۱۳۹۸/لیندۍ/۱۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي لغمان ته د خپل سفر په جریان کې د ۹۱ پروژو چارې پیل او ۷۷ نورې پروژې یې گټې اخیستنې ته وسپارلې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر په هغه مراسمو کې چې په همدې تړاو جوړ شوي ول، وویل، په دې پروژو کې سربندونه، ویالې، سړکونو، استنادي دیوالونه، د برېښنا او د څښاک اوبو برابرولو پروژې شاملې دي، چې څه کم ۳۰۰ میلیونه افغانۍ ارزښت لري.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر زیاته کړه، وزارت لغمان ته ۳۸۹ نورې پرمختیایي پروژې په پلان کې لري، چې ٤٦۰ میلیونه افغانۍ ارزښت لري او ۷۰۰۰۰ کورنۍ به ترې گټه واخلي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د دې ترڅنگ وویل، د کورنۍ اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام به د لغمان ولایت ۲۱٦ کلي تر خپل پوښښ لاندې راولي، چې ۱۷۲۸۰ کسان به له دې پروگرام څخه گټه اخلي.



# په لوګر کې له ۷ کورنیو سره د ۱۵۰ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکیو مرسته وشوه

۱۸/ لیندۍ/ ۱۳۹۸


له ۷ اړو کورنیو سره د څه باندې ۱۵۰ زره افغانیو په ارزښت د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د لوګر ولایت د خوشي ولسوالۍ د خاني خیلومنۍ کلي د پراختیایي شورا لخوا د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیزګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته ورکړل شوې چې وړه، وریژې، غوړي، خواړه، چای او یو پسه پکې شامل وو.



# په دایکندي کې یوه پرمختیایي پروژه تصویب شوه

۱۶/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د دایکندي د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست له اروزونو او خیرلو وروسته د یاد ریاست د تخنیکي ټیم له خوا د دایکندي ولایت د پاټوي ولسوالۍ په قخور سیمه کې د اوبو رسولو یوه شبکه تصویب شوه. ددې پروژې په پلي کیدو سره به ۱۱۰۰ کورنۍ د ښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړي.





# په فراه ولایت کې د ۱.۷ ملیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کرنیز کانال د جوړولو کار روان دی

۱۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوه کرنیز کانال د جوړولو کار د فراه ولایت د مرکز اړوند د ده خدایداد کلي د پراختیایي شورا له خوا روان دی. دغه کانال ۳۹۰ متره اوږدوالي لري چې کارېې ۸۰ سلنه پرمخ تللي او د جوړولو په بهیر کې به یې ماهرو او غیرو ماهرو کارګروته ۹۰۰ کاري ورځې رامنځته شي. د یادونې وړ ده چې د دغه کانال د بشپړیدو ورسته به د کلي ۲۰۰ کورنۍ ترینه ګټه واخلي او ۸۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه به خړوبه شي.

# په فاریاب کې د ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار بشپړ شو

۱۸/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار د فاریاب ولایت د خان چارباغ ولسوالۍ د عربشاه تربغچي کلي د پراختیایي شورا له خوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د څښاک د پاکو اوبو دغه شبکه ۲۰۰۰ متره اوږدوالي لري، د ۲۳ مکعبه متره اوبو یوه زیرمه، ۱۱ نلکې او یوه ژوره څاه لري چې له بشپړیدو وروسته به یې د کلي ۵۰۰ کورنۍ د څښاک پاکو اوبوته لاسرسی پیدا کړي.





# په کندز کې د خه باندې ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳ حقابو (اوبو ویشونکو) د جوړولو کار روان دی

۱۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د خه باندې ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳ حقابو ( اوبو ویشونکو) او د ۶۰ متره په اوږودوالي محافظوي دیوال د جوړولو کار د کندز ولایت مرکز د اتمانزي حاجي جان آغا پراختیایي شورا له خوا روان دی. د دغې پروژې کار ۷۰ سلنه پرمخ تللی او د کار په بهیر کې ماهرو اوغیرو ماهر کاریګروته ۱۳۳٦ کاري ورځې برابرې شوي. د یادونې وړ ده چې د پروژې له بشپړیدو وروسته به ۲٦٤ کورنۍ ترینه ګټه پورته کړي او د کلیوالو ۵۰۰ جریبه ځمکه به خړوبه کړي.

# په کندهار کې د ۱.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو کانال جوړولو کار روان دی

۱۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ په حاجي احمد کلي کې د ۱.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه کرنیز کانال جوړولو کار روان دی. د دې پروژې په ترڅ کې ۷۱۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې دي او په بشپړتیا سره به یې ۵۰۰ جریبه ځمکه خړوبه شي. ۱٤٤ کورنۍ به ددې پروژې له ګټو برخمنې شي.





# په کندز کې د خه باندې ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳ حقابو (اوبو ویشونکو) د جوړولو کار روان دی

۱۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د خه باندې ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳ حقابو ( اوبو ویشونکو) او د ۶۰ متره په اوږدوالي محافظوي دیوال د جوړولو کار د کندز ولایت مرکز د اتمانزي حاجي جان آغا پراختیایي شورا له خوا روان دی. د دغې پروژې کار ۷۰ سلنه پرمخ تللی او د کار په بهیر کې ماهرو اوغیرو ماهر کاریګروته ۱۳۳۶ کاري ورځې برابرې شوي. د یادونې وړ ده چې د پروژې له بشپړېدو وروسته به ۲٦٤ کورنۍ ترینه ګټه پورته کړي او د کلیوالو ۵۰۰ جریبه ځمکه به خړوبه کړي.

# په کندهار کې د ۱.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو کانال جوړولو کار روان دی

۱۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له لوري د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ په حاجي احمد کلي کې د ۱.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه کرنیز کانال جوړولو کار روان دی. د دې پروژې په ترڅ کې ۷۱۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې دي او په بشپړتیا سره به یې ۵۰۰ جریبه ځمکه خړوبه شي. ١٤٤ کورنۍ به ددې پروژې له ګټو برخمنې شي.





# په میدان وردگو کې ۲۴۰ کورنیو ته د څښاک اوبه چمتو شوې

۱۹/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو، اوبه خور او حفظ الصحې ملي پروګرام له لوري د میدان وردګو ولایت د بهسودو ولسوالۍ په دشتک سیمه کې د ۳.۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د اوبو یوه شبکه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

ددې پروژې په بشپړتیا سره د یادې سیمې ۲۴۰ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.

# په غور کې د نږدې ۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳۴ پروژې بشپړې شوې

۲۱/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د غور ولایت په شهرک او تولک ولسوالیو کې د نږدې ۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۳۴ پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. په دې پروژو کې د اوبو رسولو ۲۸ شبکې، د اوبو د برېښنا یوه پروژه د څاه ګانو ایستلو دوه پروژې، درې محافظوي دیوالونه او د کانال احیا او د اوبو زېرمه شاملې دي. ددې پروژو په ترڅ ۴۸۵۸۰ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې، ددې پروژو په بشپړتیا سره ۱۲۴۱۰ کورنۍ یې له ګټو برخمنې شوې.



# د انجینرۍ او کرنې په برخه کې د جاپان هیواد د ماسترۍ پروګرام لپاره ازموینه واخیستل شوه.

۱۳۹۸/ لیندۍ/ ۲۰

د جاپان د د نړیوالې همکارۍ سازمان (جایکا) د ۲۰۲۰ کال د ماسترۍ پروګرام لپاره د انجینرۍ او کرنې په برخه کې ازموینه د کلیو پراختیا انستیټوټ کې واخیستل شوه.

په دې ازموینه کې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ورازت مرکزي او ولایتي ریاستونو څخه د ۲ تنو ښځینه کارکونکو په ګډون ۲۸ تنو کارکونکو برخه اخیستي وه، له دوي څخه به ۸ تنه راتلونکي پړاو ته ځي.

د کلیو پراختیا انستیټوټ سرپرست رئیس شهزار څدران، ، د بشري سرچینو رئیس محمد نور کتهوازي او د وزارت مقام د دفتر رئیس شاهپور عبدالرحیمزي د نظارت د کمیټې د غړو په توګه له ازموینې څارنه وکړه.

دا په داسي حال کې ده، چې د کلیو پراختیا انستیټوټ د بورسونو او فیلوشپونو آمریت هر کال د جاپان د نړیوالې همکارۍ سازمان (جایکا) ته د وزارت یو شمیر کارکونکي د هغوي د تحصیلي سطحې د ودې لوړوالي لپاره یاد سازمان ته معرفي کوي.





# د مالیې او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارتونو ګډ نندارتون

۲۰/ لیندۍ/ ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام لهخوا د مالیې وزارت په غوښتنه د یاد وزارت په انګړ کې د یوې ورځې نندارتون جوړ شو. د نندارتون د پرانستغونډې په مراسمو کې د مالیې وزارت سرپرست وزیر ښاغلي محمد همایون قیومي، پخپلو خبرو کې د ښځو مقام او کردار ته په ټولنه کې اشاره وکړه او زیاته یې کړه، چې د داسې نندارتونونو جوړول د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره ګټور تماميږي، سرپرست وزیر ټینګار وکړ، چې د مالي وزارت د ښځینه متشبثینو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره ژمن دي. په دې نندارتون کې چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام ۳۰ تنه ښځینه متشبثینو ګډون کړي وو، د هېواد له ۸ ولایتونو (هرات، بلخ، بامیان، ننګرهار، خوست، پکتیا، پروان او کندهار) څخه راغلي وې. لاسي صنایع لکه: ټغرونه، قیمتي کاڼي، زیوارت، د لبنیاتو خوراکي توکي، ترشي، البسه هغه تولیدات وو، چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د ښځینه متشبثینو لهخوا په یاد نندارتون کې ننداري او پلورنې ته وړاندې شوي وو. یو شمېر ښځینه متشبثینو چې په دې نندارتون کې ګډون کړې وو، د دولت د وزارتونو ترمنځه یې د داسې نندارتونونو په جوړولو خوښي څرګنده کړه او زیاته یې کړه، چې د دولت د وزارتونو ترمنځه مرستې او له ښځینه متشبثینو څخه ملاتړ کولای شي په اقتصادي خپلواکۍ کې له کلیوالي مېرمنو سره مرسته وکړي. د یادونې وړ ده، چې یاد نندارتون د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي د منعې په موخه د شپاړس ورځني کمپاین په تسلسل کې د مالي وزارت په غوښتنه د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام لهخوا جوړ شوی و.

